# په پخوانی یو ګوسلاویا کې انتقالي عدالت ته کتنه

د ۱۹۹۰ میلادي لسیزې په کلونو کې ، کله چې د پخوانی یوګوسلاویا هیواد په څو دولتونو باندې تجزیه شو، نو د ډېرو ناوړه تاوتریخوالي ډګر وګرځېد چې اروپا له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته دا ډول تاوتریخوالی نه و لیدلی. کرواسي او کوسوو هیوادونو ډېر ناوړه اقتصادي حالات وزغمل. سره له دې چې د یوګوسلاویا هیوادونه له بشري حقونو څخه د سرغړونې ډګر ګرځېدلی دی خو د تجزیه شوې یوګوسلاویا په یو هیواد هم په تیرو کې دپام وړ او هراړخیزه توګه د بشري حقونو د نقض په اړه کار نه دی کړی.

## د پخوانی یوګوسلاویا د شخړې تیرو ته یوه کتنه

وروسته له هغې چې په ۱۹۹۱ میلادي کال کې اسلونیا له یوګوسلاویا څخه بېله شوه او د خپلواکۍ اعلان یې وکړ، په دې کار سره په حقیقت کې د یوګوسلاویا د تجزیې بنسټ کېښودل شو. وروسته له هغه کرواس او بوسنیا – هرزګوینا هم د خپلواکۍ اعلان وکړ او بېل بېل هیوادونه یې جوړ کړل . د یوګوسلاویا په تجزیې او د نویو هیوادونو په رامنځ ته کېدو سره ، تاوتریخوالي و تجاوزونه او د بشریت په وړاندې د جنایتونو ارتکاب هم پیل شول. او د نوېښو هیوادونو رامنځ ته کېدل په ناوړه جګړو کی را ښکیل شول چې بشري حقونو پراخ ترپښو لاندې کولو ته یې بېه ورکړه. له دې هیوادونو څخه هریوه د جګړو له کړاوونو ډکې تجربې شاته پرېښودې. د بېلګې په توګه، د اسلونیا او د یوګوسلاویا د خلکو نظامي ځواکونو ترمنځ جګړې لس ورځې اوږدې وې. خو هغه وحشیانه جګړې چې په کرواسي او بوسنیا – هرزګوینا کې له ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کال څخه پیل شوې تر ۱۹۹۵ کال پورې یې دوام درلود . همدارنګه د جګړې هغه اور چې په کوسوو کې له ۱۹۹۸ څخه پیل شو تر ۱۹۹۹ کال پورې اوږد شو.

د دې هیوادونو وسله والو شخړو له بشري حقونو څخه د سرغړوونو او د هغو د تر پښو لاندې کولو پراخه پیمانې ته بېه ورکړه . داسې شخړې چې په ملکي خلکو باندې پراخه یرغل، په زور کډوالی ته اړیستنه، سیستماتیک جنسي تجاوزونه او ناستندرد بندېغالي یې په ځان کې رانغښتل. هغه هیوادونه چې په هغو کې د بشري حقونو څخه د سرغړاوی ترټولو ناوړه تاوتریخوالي رامنځ ته شوي دي ، بوسنیا- هرزګوینا ده چې ډېرو عامه وژنو پکې صورت نیولی دی. شمېرنې ښیئ چې په دې هیواد کې د وسله والو شخړو په پایله کې د ۱۴۰۰۰۰ په شاوخواکې خلک وژل شوي دي او د ۴ ملیونو په شاوخوا کې بېځایه شوي دي.




کرواسي به ۲۰۰۳ کال کې د جرمونو د څېړنې ځانګړې خونه پرانیستله . صربستان هم په همدې کال د بلګراد د ولسوالی په محکمه کې د جګړې د مجرمانو خونه رامنځ ته کړه. همدارنګه په کوسوو کې په ۲۰۰۰ کال کې ځینې قاضیان او نړیوال قضایي تعقیبوونکي په کار واچول شول.

په دې هیوادونو کې د بشري ضد جرمونو د تورنو کسانو د قضایي تعقیب ډول سره توپیر لري. د صربستان په محکمه کې شاهدانو د شهادت له ورکړې څخه ډه ډه کړې ده ځکه دوی د وېرې احساس درلود او د پولیسو په صاحب منصبانو په وړاندې کوم چې د بشري ضد جرمونو په ارتکاب باندې تورن دي یې شهادت نشو ورکولی. د بوسنیا- هرزګوینا محکمه هم څېځپانده وه ، د بېلګې په توګه کله چې محاکمې د ټرلو دروازو تر شا جریان درلود ، ډېرې داسې اندیښنې موجودې وې چې کیدای شي د محکمې جریان د چنې وهلو له

## انتقالی عدالت

### الف- د مجرمینو قضایي تعقیب

په هغه ځای کې چېرته چې شخړه رامنځ ته شوې ده، قضایي تعقیب، په تیروکې د بشري ضد جرمونو په اړه د عدالت د اجرا (انتقالي عدالت) له ترټولو پرمختللو لارو چارو څخه ګڼل کیږي. په بوسنیا – هرزګوینا هیواد کې مخلکې له دې چې ؛ د بوسنیا- هرزګوینا د جنګي محکمې خونه؛ په ۲۰۰۵ کال کې منځ ته راشي ، د جګړې د مجرمینو قضایي تعقیب د پام وړ کچه باندې رامنځ ته شو. دا تعقیب هم د ولایتونو په کچه تر لاس لاندې ونیول شو او هم د ولسوالیو په کچه .

پاتې د پاڼې شاته

امله خپل لوری بدل کړي.

د پخواني یوګوسلاویا لپاره د جرمونو نړیواله محکمه چې په ۱۹۹۳ کال کې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا لخوا رامنځ ته شوه، دې محکمې د ۱۱۵ کسانو په وړاندې خپل ګامونه اوچت کړي دي او د ۴۶ نورو کسانو په وړاندې به هم اقدام وشي سلوبودان ملوسویچ (Slobodan Milosevic) هغه تر ټولو لوړ مقام و چې په دې محکمه کې حاضر شو.

په ۲۰۰۶ کال کې د صربستان ولسمشر مړ شو او هغه څلورکلن قضایي تعقیب پای ومونډ. رادوان کارازیچ (Radovan Karadzic) د صربانو پخواني رهبر په ۲۰۰۸ کال کې ونیول شو او د یوګوسلاویا لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې ته واستول شو. څرنګه چې په پام کې ده دا قضیه د ؛ بشپړې استراتیژۍ ؛ تر سرلیک لاندې تر ۱۰۱۰ پورې پای ته ورسېږي.

د یوګوسلاویا لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې هم په ۲۰۰۸ کال کې ۱۳ قضیې د بوسنیا –هرزګوینا ، کرواسي او صربستان ملي محاکموته لیږدولې دي.

## ب– د حقیقت موندنې نوښتونه

د یوګوسلاویا تجزیه شویو حکومتونو د حقیقت موندنې د پروسې او د بشریب په وړاندې د سرغړونو او جنګي تورنو کسانو او د ټولو نژادونو په وړاندې ترسره شویو جنایتونو د حقیقتونو د رابرسېره کولو په اړه هڅې نه دي کړي . او همدارنګه دې هیوادونو داسې یو تصمیم نه دی نیولی ترڅو هغه سندونه او شواهد چې د بشر له حقونو څخه په سرغړونه او د بشر د حقونو په تر پښولاندې کولو باندې په تورونو کسانو باندې دلالت کوي را ټول کړي. د دې هیوادونو د ډله ایز تصمیم نشتوالی د دې لامل وګرځېد چې په سیمه کې د حقیقت موندنې هڅې له ماتې سره مخامخ شي.

ویسلاو کستونیکا (Vojislav Kostunica) د صربستان ولسمشر په ۲۰۰۱ کال کې د یوګوسلاویا د حقیقت موندنې او پخلاینې کمیسیون رامنځ ته کړ. دا کمیسیون له څو ستونزو سره مخ دی: لومړی له نژادي تنوع څخه برخمن نه و. دوهم یې له قربانیانو او ناحکومتي ارګانونو سره په سمه توګه سلامشوره نه کوله. نومړي کمیسیون پرته له دې چې خپل وروستی راپور یا کومه سپارښتنه وړاندې کړی خپل کار یې پای ته ورسولو.

د بوسنیا– هرزګوینا د حقیقت موندنې کمیسیون د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۵ کال پورې په دې باندې بریالی نشو ترڅو د جګړې او د بشر ضد جنایتونو د حقیقتونو او د صربانو، بوسنیایانو، یهودیانو او نورو د برخلیک په اړه د حقیقت موندنې د کار پلټنه او لاسرسي په سارایوو کې تر لاس لاندې ونیسي . دا کمیسیون هڅه کوي ترڅو په بوسنیا هرزګوینا، کرواسیا، سربستان او کوسوو کې د ترې تام شویو کسانو برخلیک پیدا او وټاکي.

هغه درې اصلي سازمانونه چې د بشر په وړاندې د جرمونو د سرته رسولو په اړه یې په تیرو کې په پخواني یوګوسلاویا کې فعالیت درلود په ۲۰۰۴ کال کې یې یوه ائتلاف رامنځ ته کړ چې اوس له ټولې یوګوسلاویا څخه د جګړه ځپلو د ریکارډونو د جوړولو په حال کې دی. دا سازمانونه عبارت دي د بشردوستی د قانون له مرکز (صربستان)، د مدارکو د پلټنې او راټولولو مرکز (بوسنیا – هرزګوینا) او د مدارکو راټولول (کرواسی). د دې ائتلاف د دې ائتلاف د ترې تام شویو انسانانو پروژه په پام کې لري چې ترڅو د تاریخ د تجدید غوښتنې مخه ونیسي ، همدارنګه له قربانیانو او مدني ټولنې سره په لوړه کچه مرسته وکړي ترڅو هغوی تا توانایي ترلاسه کړي چې د پخواني سیاسي لاسوهنې په وړاندې مقاومت وکړي.

## ج– قضایي سمونونه

په قضایي دستګاوو کې د سمونونو په پایله کې د جوړښت او اداري له مخې بدلونونه راغلي دي چې د هغې له ډلې کولای شو د بوسنیا هرزګوینا د قضایي سیستم سمونونو ته اشاره وکړو. د دې اصلاحاتو په پایله کې د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۴ پورې ټول قاضیان او قضایي تعقیب کوونکي بیا اړ شول ترڅو خپلو دندو ته له سره غوښتنلیک ورکړي. نوموړي سمونونه د آزموینې د بهیر په چارچوکاټ کې په لومړي سر کې قضایي سیستم ته لړوالی ورکوي ، دوهم ډاډ ورکوي چې له ټولو قومي او نژادي ډلو څخه په قضایي ارګان کې حضور ولري.

د قضایي او قضایي تعقیب لویه شورا د ۱۰۰۰ په شمېر غوښتنلیکونه تر غور لاندې ونیول او له ټولو غوښتنلیکونو څخه یې د ۲۰۰ په شمیر غوښتنلیکونه و نه منل. د صربستان بشر د حقونو د تړینو لاندې کولو لپاره د قانون او مسؤلیت منني سازمان چې په ۲۰۰۳ کال کې ثبت او راجستر شوی و تر اوسه لا د اجرا پړاو ته نه دي رسیدلي او خپل کاریې نه دی پیل کړی.

## د– د زیان د جبران پروګرامونه

د رسیدلي زیان جبران یا تاوان د انتقالي عدالت د تامین له لارو چارو څخه دی. د زیان تاوان د قربانیانو د خوا خوږی سبب ګرځي او په تیرو کې د بشري ضد جنایتونو ته د رسېدو له چارچوکاټونو څخه ګڼل کیږي. د یوګوسلاویا په تجزیه شویو هیوادونو کې د رسیدلي زیان په تاوان ورکولو کې د مالي زیان جبران او قربانیانو د حقونو اعاده او همدارنګه د یادګار د بنسټونو ودانول راځي. د بوسنیا– هرزګوینا هیواد په دې اړه د پام وړ بریالیتوب درلود.

دې هیواد وکولای شول له هغو ۲۰۰۰۰۰ ادعاو څخه چې سیمه ایزو چاروکو تر لاسه کړې وې ، ۹۰ په سلو کې حل کړي. خو قربانیانو ته د تاوان ورکول له خو او که چېرې سره مخامخ و. څکه حکومتي چارواکو د دې پر ځای چې قربانیانو ته تاوان ورکړي هغه یې د قومي ډلو غړوته ورکړی دی. همدارنګه د یادګارونو په ودانولو کې هم همدې ستونزې شتون درلود څکه د دې پر ځای چې یادګارونه د قربانیانو په درناوي او یا باندې ودان شي ، یواځې په هغو قربانیانو پورې اړه درلوده کوم چې د ډېرې قومي ډلې غړي و. د تاوان او دزیان د جبران په اړه اندیښنه داده چې دا پروسه تر پام وړ پولې د قربانیانو او ملکي افرادو په ځای د پخوانیو جګړه مارانو په ګټه ده .

په سیمه ایزه کچه د زیان د جبران له لارې د انتقالي عدالت د بهیر د تامین د پروګرامونو له ډلې څخه ، د بوسنیا –هرزګوینا شکایتونه دي چې دې هیواد د فدرالي یوګوسلاویا د ولسمشر په وړاندې د عدالت په نړیواله محکمه د ۱۹۴۸ کال د نسل وژنې له میثاق څخه د سرغړاوي له امله په لاره واچول شول او مالي خسارې د جبران غوښتنه پکې شوې ده. خو نوموړې محکمې دا شکایت رد کړ.



**د انتقالي عدالت نړیوال مرکز (ICTJ) :** د انتقالي عدالت نړیوال مرکز داسې یو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خوندیتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هیوادونو سره چې غواړي د تل پاتې سولې او په تیرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعالیت وکړي، مرسته کوي. د دې مرکز د فعالیت سیمه هغه ټولنې دي چې له ځینو حکومتونو او یا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او یا په هغو هیوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سیستماتیک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګریوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه یو افغاني مدني بنسټ دی چې لرلید یې یوې ولسواکې، سوله ایزې، متواضع او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي یې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ ماموریت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پایله یې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او یو د بل د منلو د فرهنګ پیاوړتیا او بشري حقونو ته درناوی وي. ولسواکی، عدالت، بشري حقونو، په هیواد کې انډولیزې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا ، بې پربوالي، خپلواکی او تخصص ته ټینګه ژمنتیا د دې سازمان د کړو وړو د لارښود په توګه له چورلیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org